# د ښاغلي لایق زاده لایق
# کار، زیار او ادبي ژوند

ستاد ښائست ګلونه ډېر دی
څولۍ مې تنګه زۀ به کوم یو ټولومه

پښتني کولتور او ادب د هر اړخه موړ او بډایه دی، په ټولیزه او فطري توګه پښتانه امن خوښی قام دی . شعر، شاعرۍ او موسیقی سره مینه لري هر هغه لوستي او نا لوستي پښتانه چې د خپل کولتور نه پردی شوی نه وی، لرې او یا ډېرې پښتو لنډۍ او ټپې به ئې خامخا زده وي.

د پښتو د ادب په اسمان ډیر ځلانده ستوري ځلېدلي دي او پښتون ملت چې زرګونه کاله روڼ پیښلیک ، کړکېښ(تاریخ) لري ، په خپله خاوره ډیر ویاړلي نومیالي، منلي پوهان، ادیبان، شاعران او لیکوالان زیږولي دي، چې د پښتني کولتور د سمسورتیا او بډاینې لپاره ئې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړې او لا کوي ئې ، پدې ډله کې ښاغلی لایق زاده لایق ځلانده او وتلی نوم، پېژند ګلو او شهرت لري.

ښاغلی لایق زاده لایق پیدائشي شاعردی، د پښتو ژبې منلی او وتلی لیکوال، کېسه لیکونکی ،ادیب ، ژورنالست او څېړونکی دی . یو ډیر اړخیز سړیتوب (شخصیت) دی . د ادب

په ډګر کې په ټولو لارو ګرځیدلی دی . د خپل لوړ فکر، نظر، پوهې، هنر، مهارت او پوره تجربی له امله د ادب په ټولو برخو برلاسی دی او په ادبی بهیر کی یو ځانګړی مقام لری . د خپل ژوند ډیره برخه ئی د خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) او پښتني کولتور د چوپړ لپاره وقف کړېده . د پښتون قام او پښتنو د ابادۍ ،سوکالۍ، امن، پوهې او بېدارۍ لپاره ئې قلم پورته کړی دی .د پښتني کولتور لمن یې په ارزښتناکو لیکنو، شعرونو، نظمونو، نثرونو، لنډو کیسو، کالمونو، مقالو، ډرامو او په ځېړنو ښکلې او غني کړېده . د ګڼو لیکوالانو او شاعرانو په کتابونو ئې سریزې لیکلي دي .د لیک ژبه ئې روانه، ساده او اسانه ده .ټول خلک پرې پوهیږي.

ښاغلی لایق صیب د ۲۰۱۱ء کال د اکتوبر په میاشت کې د اروپایي یون (سفر) په لړ کښې جرمني ته راغلی ؤ، نوموړي په جرمني کښې هم خپلې ادبي هلې ځلې جاري وساتلې او د ګڼ شمېر بهر مېشتو پښتنو ادیبانو، شاعرانو، لیکوالانو ،سیاستوالو او ژورنالستانو سره ئی لیدنې کتنې وکړې.

په بون ښار کښې یې د المان غږ راډیو، په پراګ کی ئی د ازادۍ راډیو او مشال راډیو له کارکوونکو او ملګرو سره د نظریو بدلون وکړ او خپلې تجربې یې ورسره شریکې کړې .په هغه ادبي بنډار کښې یې هم ګډون وکړ ،چې دده په ویاړ د جرمني د کولن په ښار کښې جوړ شوی ؤ.

د ''خوبونو تعبيرونو''په نامه سفرنامه يې وليکله، چې دا سفرنامه يې د ''ماته ائينه ''دلنډو افسانو په بڼه د سفرنامو په پير کښې يو ځانګړی نوښت ؤ.دغه راز د نومورې د ډيرو نورو ګټورو ليکنواو کتابونو ترڅنګ''فنکار نه مری''هغه څيړنيز کتاب دی، چې تازه چاپ شويدی .

''فنکار نه مری''د پښتنی کولتور اوادب په برخه کښې يوه ډيره ګټوره پلټنيزه څيړنه ده چې لايق صيب پکښې ډيره ستړتيا ګاللې تر لرې، لرې پسې تللی دی . دا څيړنه (فنکار نه مري) يې د ډيرو کلونو په ترڅ کښې تر سره کړيده . د پښتو ژبې د پنځوسو هغه هنرمندانو ژوند ليکونه او حال احوال يې په کښې خوندي کړی، چې اوس زمونږ سره جسمانی موجود نه دي . دا څيړنه ئی بې ساری او ډيره ارزښتناکه ده.

د فن او هنر په برخه کې هم د ښاغلی لايق صيب هلې ځلې پوره د ستاينې اوقدردانۍ وړ دي، د ګڼ شمېر نامتو پښتنو سندرغاړو لاربښونه ئې کړې، روزلې اوپاللې ئې دي ، له دوئې سره ئې د فن اوهنر د زده کړې په برخه کښې پوره پوره مرسته کړی ده چې له دغه ډلې څخه د بيلګې په توګه د مېرمن نازيه اقبال، د پښتو موسيقۍ د بابا استاد خيال محمد کشر څوی ښاغلی وصال خيال، ښاغلی خالد ملک، ښاغلی ماسټر رحيم ګل،خدای بخښلې مېرمن غزاله جاويد او داسې نورو هنرمندانو نومونه د يادونې وړ دي.

د پښتو موسیقۍ د نامتو کمپوزرانو او موسیقۍ جوړونکو استاذانو هر یو ښاغلی ماسټر علي حیدر، استاد نظیر ګل، ښاغلي شاکر زیب نوشیروي، ښاغلی نظر محمد زرو، ښاغلی فرخ زیب نوشیروي او داسې نورو سره یې د موسیقۍ په ډګر کښې ددوئ په پیژندګلوئ کښې پوره ونډه لرلې ده.

له ۸۰۰ نه زیات شعرونه یې د لوې پښتونخوا د بیلابیلو پیژندل شویو نامتو سندرغاړو او هنرمندانو له خوا په راډیو، تلویزیون، فلمونو، حجرو، دیرو او نورو محفلونو کې ویل شوي دي چې پدی سره یې د نالوستو پښتنو غوږونو ته هم خپل پیغام رسولی دی. د ښاغلی لایق صیب په اثارو او ادبی هلوځلو لیکنې به خپلو درنو پوهانو ته پریږدواو دده ادبی ژوند ته به یو ځغلند نظر واچوو:

ښاغلی لایق زاده لایق د ۱۹۵۹ءکال د جنورۍ د میاشتې په پنځلسمه نېټه د پښتونخوا د سوات په ښکلې سیلاني سیمه کې د مدین په کلي کې دنیا ته سترګې غړولی دی. لومړنۍ زدکړه ئی د خپل کلي د هائی سکول (لیسې) او لوړې زده کړې ئی، په سیاست، پښتو ادب او اردو ادب کې سر ته رسولی دی، د وکالت ډګری او په پښتو ادب کې د انرز خصوصي سندونه هم لاس ته راوړی دی. د ورکوټی والی راسې ئی د پښتو ادب لمن ټینګه نیولې ده، د شعر لیکل ئی د ۱۹۷۱ء کال راسې شروع کړی دی د

شاعرۍ سربېره ئې د نثر او څېړنې په برخه کې پوره زيار ګاللی دی.

د نورو ګڼو ادبی هلو ځلو تر څنګ ئی په ۱۹۷۸ کې په جهانزيب کالج سوات کې د سرحد سټوډنټس فيډريشن بنسټ هم کېښود، چې د مترقي ذهن پوهيدونکي (سټوډنټان) پکې راټول شول.

ښاغلی لايق زاده لايق په ۱۹۸۳ء کال کې د ژورناليزم په ډګر کې د پېښور راډيو د پروډيوسر په توګه د خپل عملي ژوند پيل وکړ. د ګڼو ورځپاڼو او مجلو سره سره د وحدت ورځپاڼې همېشنی قلمي همکار پاتې شوی دی. د ښوونځي (سکول) او کالج په دوران کښې ئې ګڼ شمېر افسانې او شعرونه په "ايلم" مجله کښې خپاره شوي دي. له ۳۷۰ زياتې ريډيائي ډرامې ئې ليکلې او نشر شوي دي.

ښاغلي لايق زاده لايق د پېښور او د کوهاټ راډيو ډائرېکټر د دندې سربېره په ګڼو بېلابېلو سرکاري لوړو کرسيو هم کار کړی دی چې د پښتون قامي وحدت ستر لارښود ښاغلی محمد افضل خان لالا (د پاکستان په مرکزي کابينه کښې وزير وۀ) پرائيوېټ سيکرټري هم پاتې شوی دی.

د ادبي او کلتوري خدمتونو په دې لړ کې چې کله په کال ۱۹۹۸ء کې په پېښور کې د پښتونخوا د پوهنې ديره جوړه شوه نو ښاغلی لايق زاده لايق ئې د مشر او ښاغلی بصير بېدار ئې د مرستيال په توګه وټاکل شول چې د پوهنې ديرې په چوکاټ کې

ئې تر اوسه له دوه سوو زيات كتابونه چاپ كړي او ګڼ شمېر د موسيقۍ ماښامي ئې جوړ كړي . د ګڼو پښتنو پوهانو ، شاعرانو او اديبانو د كتابونو سريزې يې ليكلې ، د كتابونو په چاپ او پروف كې ئې ورسره هر اړخيزه مرسته كړې او د دوي ليكنو ته كتابي بڼه وركړې . دغه راز نوموړي ته دده د ادبي خدمتونو له امله د پاكستان سره سره په بهرنيو هېوادونو كې له ۳۰ څخه زيات ايوارډونه او ستاينليكونه وركړى شوي دي .

زۀ چې كتاب پسې كتاب ليكم
حال د زړګي خانه خراب ليكم
د لېونتوب د هرې ساه په نامه
يو بې عنوانه اضطراب ليكم

په ادبي تاريخ كې د ښاغلي لايق زاده لايق ادبي زيار او ليكنې ځانګړى ځاى لري . د ادب په بېلا بېلو برخو كې يې له ۲۰ نه زيات پنډ پنډ ارزښتناك او ګټور كتابونه ليكلي او خپلې ټولنې ته وړاندې كړي دي . يو څو كتابونه ئې د ''محنت مېوه'' (د ماشومانو لپاره) ، ''ګيلې'' (شعري ټولګه) ، ''ويښ خوبونه'' (شعري ټولګه) ، ''ستا په نوم'' (شعري ټولګه) '' راځئ چې بيا وخاندو'' (د منتخبو ټوقو ټقالو ټولګه) ، ګلبانو او ظفر خان (اولسي قيصه) ، ''اوښكي او لمبې'' (د كشمير په حقله) ، ''د احمد دين طالب ديوان (د خصوصي مقدمې او اضافو سره) ، ''ډالۍ '' (د علي خان بابا او عبدالحميد بابا د شاعرۍ موازنه) ، ''مشكنې'' (شعري ټولګه) ''لېونتوب'' (شعري ټولګه) ، ''صل

علیه وآله " (نعتیه ټولګه) چې دې نعتیه ټولګې ته د پاکستان جمهور رئیس له خوا په ۱۹۹۱ء کال کې ایوارډ ورکړل شو۔ "جلوې" (نعتیه ټولګه) چې ورته په کال ۲۰۰۷ء کې وزیراعظم له خوا ایوارډ ورکړل شوی دی ۔ "ما هېرولے نهٔ شې " (شعري ټولګه) "ډاکټر کبیر ستوری ژوند او مبارزه" (د اروانباد کبیر ستوري د لیک او شخصیت په حواله د بېلابېلو لیکوالو د تاثراتو ټولګه) "ای ګنبد خضرٰی (نعتیه ټولګه) چې ورته د پاکستان وزیراعظم له خوا په کال ۲۰۱۰ء کې ایوارډ ورکړل شو ۔ "ماته آئینه" (د افسانو ټولګه) چې نن سبا د خیبر تلویزیون په پرده د لنډو ډرامو په بڼه خپرېږي۔ "فنکار نهٔ مري (ځېړنه) په دې ځېړنه کې د تېرو هېرو آوازونو په نوم د پنځوسو سندرغاړو او فنکارانو د ژوند لیکونه او حال احوال راټول شوی دی۔ "ځلنده ستوري" چې د سوات د ماماخېلو منظوم تاریخ دی۔ "راز ونیاز" (نعتیه ټولګه) "تهٔ به ما یادوې" (شعري ټولګه) "ورانې کربښې" (شعري ټولګه) "خوبونه تعبیرونه " (د یورپ سفرنامه ) "پښتو موسیقي پرون او نن " ، " بې خودي " (شعري ټولګه ) "د لفظونو ساندې" (شعري ټولګه ) ، "تضاد" (شعري ټولګه ) ، "وه ایک شخص" (په اردو ژبه کې د خپل ژوند قیصه ) "مینه سندره شوه " (شعري ټولګه ) ، "د حجاز په لور" (سفر نامه ) ، "الصلوٰة والسلام " (نعتیه ټولګه ) ، "بائیللے داؤ" (د افسانو ټولګه ) "لا خو دې تصویرنیمګړے پاتې دے" (شعري ټولګه ) ، "شلیدلي تارونه" (د افسانو ټولګه ) ، "خوبونه تعبیرونه "

(سفر نامه) ، ''تهٔ به ما یادوې'' (شعري ټولګه) ''لېونۍ سندرې'' (شعري ټولګه) ''ستا په نوم'' (شعري ټولګه) يې ټولنې ته وړاندې کړي دي.

د تکـــړه قلــم ليکنـــه نـــهٔ ورانېـــږي
کـه ئـې اووينځـې هـر څـو ئـې ښـهٔ صـفا کـې
د تکــړه قلــم رنـــګ پـــوخ وي نـــه خرېـــږي
ستوري ويل پوخ وي د ژوند پـه پرمختيـا کـې

ښاغلى لايق صېب په تکړه قلم ليکنې کوي داسې يوه ورځ به ئې تېره کړې نه وي چې شعر ، نظم او يا نثر به ئې ليکلى نه وي. تر هغې نه ويده کېږي چې څهٔ ئې ليکلي نه وي. په هره ليکنه او شعر کې ئې د امن ، د مينې ، ورورولۍ ، انسانيت او د قامي احساس د بېدارۍ ارزښتناک او اغېزمن پېغام پروت دى. فکر او ذهن ئې پښتون دى. د پښتنو د امن او سوکالۍ ارمان په زړهٔ کې لري. په قلم او ليکنو دې برکت وي.

زما په اند د ښاغلي لايق صېب د ژوند او ادبي هلو ځلو په هر اړخ د کتابونو د ليکلو اړتيا ده. پښتانه پوهان ، څېړونکي او د قلم خاوندان بايده دى چې دې برخې ته پام راوګرځوي. د خپلې ژبې او ادب د ټولو چوپړيانو د ژوند او ادبي هلو ځلو بېلابېل اړخونه راوسپړي او پښتون قام ته د دوي خدمتونه او کارنامې وخت په وخت وړاندې کړي.

په درنښت
نصير ستوري